مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۳/۱۰/۱۴

# چُپ ولاړ ګوته په خوله ورتـه اسمان دی

نن خو قهر ته د ځمکي هک حیران دی
چُپ ولاړ ګوته په خوله ورتـه اسمان دی
ملغلري سترګي لـوټو کـي تري ورکي
دا دکومي په زړه سوي مور جانان دی!؟

ها ماشوم چي ترهېدلی دی ریږدیږي
د روانـو دېوالـونـو نـه داریږي
پېښو نه ځمکه پاس نه چت پري راروان دی
د دنیا د بلا خـولـه پـري رابندیږي

په لاسو کي یې پرته د زړه توټه ده
اخ قاتله یې د خوب خـوږه کوټـه ده
ددي پلار د اسویلیو سره لمبه ده
دا چي پـورتـه د اسمان لمنه سـره ده

په ګلونو ماشومانو سـور قیامت دی
خدایه! پـاکـه دا لا څه بې رحمه غم دی
لـه هیبته ډکي سترګي شـهـیـدانـي
هـر یـو تیر او هـره خښـتـه ورته بم دی

د افغان په قتلولو کـي واره ده
عزرایل زموږ د مـرګ کـړي ټیکـه ده
د بـاور سـره د اوښـکـو قرار داد دی
خدایـه! پـاکـه زمـوږ بـرخـه عجیبه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ